## داوطلبۍ ته بلنه

## داخلي پرانيستې داوطلبي

**پروژه:** د معلوماتی تکنالوژی او FIU آمریت لپاره د فایروال او سویچ چمتو او نصبول

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1401/NCB/G06**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1401/NCB/G06** داخلي پرانيستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحويلي د جدول مطابق**} ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول ليوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د ('obaid.subhan@dab.gov.af) بربښنالیک او يا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**٦ آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1401/09/01 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین/نغدی پیسی

۸. **د آفر د تضمین مبلغ 266,618/ دوه سوه او شپږ شپته زره شپږ سوه  او اتلس افغانۍ**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه 90 ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1401/09/01 څخه تر 118 ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵.۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین یا نغدی پیسی) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکارندوی وي.

2- د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنۍ راکړې ورکړې حجم 13,330,860/ دیارلس میلیونه  دری سوه دیرش زره اته سوه اوشپیته افغانۍ.

3- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکارندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه **7,998,516** – اوه میلیونه او نه سوه اته نوي زره پنځه سوه او شپاړلس افغانۍ - یا دوه ورته پروژی لږ تر لږه **13,330,860** دیارلس میلیونه  دری سوه دیرش زره اته سوه او شپیته افغانۍ.په تیرو لسو کلونو کی.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **ټولیز ارزښت** (:  3,332,715- دری میلیونه او دری سوه دوه دیرش زره او اوه سوه پنځه لس افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af